شریعت
SHARIAT

اوونیزه

په اوونی کي دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزی نشراتي ارگان

پنځم کال ۷۵ گڼه پرله پسي(۳٦۲) شنبه د۱٤۲۱هـ ق کال د رجب المرجب (۱۷)
د۱۳۷۹هـ ش کال د تلي دمیاشتي(۲۳)د۲۰۰۰ میلادي کال داکتوبر (۱٤)

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي ،
همدا (عدل) ډیر نژدې دی
تقوا(پرهیزگاری) ته .
(سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بي حرمتي بگذارید.

فیصله قوماندانان ولایات پروان - کاپیسا :

هیچ فردي را بجنگ تخار بر ضد نیرو های ا.ا.ا نخواهیم فرستاد

قوماندانان مسعود را از فیصله خویش آگــاه ساخته اند

روزنامه سهار منتشره پشاور پاکستان در شماره روز جمعه ۲۲ میزان خبر داده است که قوماندانان مهم پروان کاپیسا از فراهم کردن قوت بشري به احمد شاه مسعود جهت شرکت در جنگ تخار برضد نیرو هاي ا.ا.ا ابا ورزیدند .

بگزارش خبرگزاري آریانا در اجلاسي که تحت ریاست قوماندان حاجي الماس و با شرکت مولوي سید خلیلي قوماندان عبدالرحیم و محمد گل دایر شده بود به اتفاق آرا به نمایندگي از مردم شمالي فیصله گردید که هیچ فردي را براي جنگ بطرفداري از مسعود به تخارص ٤

د ازبکستان جمهور رئیس اسلام کریموف :

ازبکستان
بدی غور کوی چی

د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت وپیژنی

د افغانستان په هکله دا د ازبکستان په سیاست کــــی ستر بدلون دی

ازبکستـــان په ســـیمه کی د روســــــنو د سیاســــی اغـــــیزو پلوی نه دی

امریکا غږ راډیو - شریعت : د ازبکستان جمهور رئیس اسلام کریموف ویلی دی دده هیواد په دی باره کی غور کوی چی د طالبـــانو حکومت په رسمیت ومنی چی دا د طالبانو د مخالفینو سره د اتحاد په برخه کی د افغانستان ددغه گاوندی هیواد په سیاست کی یو لوی بدلون دی ښاغلی کریموف وویل که څه هم دی د طالبـــانو له نظریی سره موافقـــه نه لری خو هغوی په افغانستان کی حاکمیت لری. ازبکستـــان تیره میاشت پاکستان ته خپل استاځی

٤ مخ

منظور قایم نمودن نظام الهي در سرزمین خداوند ج :

فرمان مقام محترم ا.ا.ا به شرح ذیل صدور یافته است

به تمام مسوولین محترم نظامي

السلام علیکم و رحمت الله و برکاته

از آن جائیکه هدف جهاد ما و شما قایم نمودن نظام الهي در زمین خداوند «ج» میباشد و بخداأ بدست آوردن این هدف مقدس ضروري است که مطابق اصول شرعي در هر وقت و زمان اجراات نمایید اما اینکه در زمان جنگ بعضاً کار هاي منکر و نادرست صورت میگیرد و همین منکرات در جنگ باعث شهادت و زخمي شدن تعداد زیاد ص ٤

محترم فیض احمد «فیض» نطاق وزارت امور خارجه طي کنفرانس مطبوعاتي به خبرنگاران گفت :

موقف ما تحکیم صلح و ثبات در کشور بوده ، قصد مداخله در امور دیگران را نداریم

نطاق وزارت امور خارجه روز پنجشنبه طي کنفرانس مطبوعاتي در قصر ستوري وزارت امور خارجه به خبرنگاران موقف و عکس العمل ا.ا.ا را در قبال اظهارات سران اجلاس بشکیک ابراز داشته گفت : ا.ا.ا در تلاشهاي دیپلوماتیک خویش در سطح جهان این حقیقت را بر ملا ساخته است که ا.ا.ا ص ٤

د امر بالمعروف او نهی عن المنکر د موظفینو له خوا د شور بازار په سیمه کی :

٦٤ تنه جـــوارگـــر ونیول شول

څلور شپیته تنه جوارگر چی د شوربازار په سیمه کی د قـمـار د وهلو په ترڅ کی د سپـاهـانو، مېزانو او د

٤ مخ

بخش اکسریز شفاخانه نظامی پلخمری مرکز ولایت بغلان ترمیم و به فعالیت آغاز نمود.

بالاثر سعی و تلاش مسوولین شفاخانه نظامی پلخمری و تلاش و ابتکار دو نفر از انجنیران با احساس و وطن دوست دو پایه ماشین اکسریز شفاخانه نظامی پلخمری با استفاده از پرزه جات مستعمل دو باره ترمیم و در خدمت مریضان قرار گرفت.

ص ٤

طي محفلي در مدرسه قول اردوی نمبر دوم شهید ملا مشر اخند :

۲۲ تن ازحافظان قرآن عظیم الشان دستاربندي گردیدند

بیست و دو تن از حافظان مدرسه قول اردوي نمبر دوم شهید ملا مشر اخند ولایت کندهار دیروز طي محفلي دستار بندي گردیدند .

در محفلي که بهمین مناسبت به اشتراك علما استادان و حافظان تدویر یافته بود محترم مولوي ص ٤

در نتیجه ۱۰ سال عملیات ماین پاکي ملل متحد ،

صرف ۲۱۹ هزار حلقه ماین از افغانستان پاکسازي گردیده است

موسسات ماین پاکي ملل متحد طي ۱۰ سال عملیات پاکسازي ماین توانسته اند صرف حدود ۲۱۹ هزار حلقه ماین را از افغانستان پاکسازي نمایند و همین حالا از جمله ده

ص ٤

محترم ایت الله تقدسي ضمن سخنراني خویش قبل از خطبه نماز جمعه در مدرسه مدینة العلم قلعه شاده کابل گفتند :

آنانیکه مقام حضرت علي «رض»را بالاتر از امامت میپنـــدارند

شریعت - کابل : محترم آیت الله تقدسي یکتن از علما برجسته اهل تشیع روز گذشته ضمن سخنراني خویش به مناسبت هفته ولادت خلیفه چهارم مسلمین حضرت علي ص ٤

د تخار ولایت په مقر کی :

پراخه غونډه جوړه شوه

د تخار ولایت د علمای کرامو مخورو او مشرانو په گډون پرون ددغه ولایت په مقر کی یوه پراخه غونډه جوړه شوه .

په دی غونډه کی د استخباراتو لوی رئیس محترم قاری احمد الله د هیواد د سیاسی او نظامی حالاتو د پرمختیاوو په باب اوږدی خبری وکړی او د تخار ولایت خلکو ته یې د حالاتو د پرمختیاوو په باب معلومات

٤ مخ

د بامیانو ولایت د لعل او سرجنگل ولسوالی په مربوطاتو کی :

د مخالفینو یو تن قوماندان د ا.ا.ا د مجاهدینو سره یوځای شو

بامیان - باختر :

د مخالفینو یو قوماندان پرون د بامیانو ولایت د لعل او سرجنگل د ولسوالی په مربوطاتو کی د خپلو وسله والو افرادو په ٤ مخ

د خوست په ولایت کی :

له وچکالی ځپلو سره د ژورو څاگانو د کیندلو د دوو دستگاوو مرسته وشوه

خوست - باختر : د وچکالی له پلوه د خوست ولایت د کروندگرو د اړتیاوو د لری کولو په مقصد په دی

ص ٤

شفاخانه صلیب سرخ کارته سه داراي بخش هاي داخله وجراحي میباشد

دربخش جراحي روزانه ٦۰ مریض به OPD مراجعه نموده وتحت تداوي قرارمیگیرند

شریعت: خوانندگان محترم! خبرنگارمااینبار ازشفاخانه صلیب سرخ کارته سه دیدن نموده ودرمورد ضرورت ایجاد،تاریخچه وچگونگي فعالیت هاي آن درشرایط کنوني کشور مصاحبه را بامحترم مولوي عبدالمالك رئیس آن شفاخانه انجام داده است که خوانش آن براي شما عزیزان خالي ازدلچسپي نخواهد بود.

درآغازمحترم مولوي ص ۳

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

روســان د افغانانو او منځنی آســــیا د ولســـونو اړیکی نه شی خرابولای

روسانو په منځنی آسیا کی د خپلو ځانگړو سیاسی او اقتصادی موخو لپاره په چټکو هلو ځلو لاس پوری کړی دوي شپـه ورځ هڅی کـوی تر څو په خپلو پوچو او بی منطقه تبلیغاتو سره د منځنی آسیا مسلمان ولسونه د افغانانو په هکله بدگومانه او وغولوی، په دی لړ کی دوه ورځی مخکی د قرغزستان په پلازمینه بشکیک کی یوځل

۲ مخ

د فرانسوی یهودیانو په یوه عبادت ځای باندی :

د ناپیژندل شویو کسانو له خوا برید وشو

په فرانسه کی بیا د یهودیانو په یوه عبادت ځای باندی برید وشو او تر اوسه پیژندل شوی کسانو نیت درلود چی هغه ته اور واچوی.

٤ مخ

محترمه دکتورس رحیمه «رحیم» معالج ومرسی سرویس اطفال شفاخانه حوزوي ولایت هرات درمصاحبه با «شریعت»

اطفال امروزسرمایه بی بدیل فرداي کشورانند

همه والدین وبزرگسالان مکلفیت دارند تااز اطفال شان مراقبت جدي نمایند

شریعت :اطفال فرشتگان معصوم ، موجودات ظریف وبالنده ویکي از ودیعه هاي بزرگ خداوندي اند که هیچ مخلوق وموجودي به پایه تقدس وتشرف آن، رسیده نمیتواند .

پرورش این موجودات عالي چه در روند تکامل تاریخ وتمدن جوامع بشري وچه از لحاظ پیشرفت هاي روزمره زندگي بشري ، در رأس مسایل قرار گرفته و افکار اکثر دانشمندان، جامعه شناسان ومتخصصان را، بخود معطوف داشته است .

رعایت این اصل در کشور محبوب ما افغانستان ، از اهمیت فوق العاده برخور دار میباشد . زیرا طفل امروز باید بادرك ص ۳

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دبوې ګڼې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کې (۳) کلداري
پست بکس : (٤۷۱) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱ توزیع و شکایات : ٦۲۸٥۹
جاري حساب : $\frac{٤۰۳۸٥}{۷}$ د افغانستان بانک مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

بیا د شپږو هیوادونو تاجکستان، قرغزستان، قزاقستان، روسیې ، ارمنستان او سپینې روسیې د ولس مشرانو تر منځ یوه غونډه جوړه شوې وه او روسانو د خپلو خاصو اهدافو د تر سره کولو په خاطر له هغوی څخه بیا نوې لوزونه واخیستل.

د سیاسي کتونکو په اند د اوږ لوزنامې چې د روسانو د بې ساري سیاسي د باو په زور لاسلیک شوې دي، چندان عملي اړخ به ونه لرې بواځې دومره خبره ده چې روسان په دې بریالي شوي چې د نوموړو هیوادو تر منځ د اعتماد او باور فضا خړه پړه او په خپلو کې یې شکمن کړي او د همدغې بې باورۍ له امله هر یو هڅه کوي چې روسانو سره نېږې اړیکې ولري او تر یوه‌حده یې په دغه شان سیاسي ډګرونو کې ملګرتیا وکړي . مګر بیا هم ځینې هیوادونه لکه ترکمنستان او ازبکستان په ډاګه ددې ډول تړونو نو ځکه مخالفت کوي چې نه غواړي روسان د منځنۍ آسیا ټوله سیمه تر خپل سیاسي اغیز لاندې راولي له بله پلوه هغه تاریخي دیني او ثقافتي اړیکې چې د افغانانو او ددغو هیوادو د مسلمانو ملتونو تر منځ له پېړیو پېړیو را رواني دي، په کلکه [د] امکان ردوي چې تر اوږده مهاله به د خپل منځې اړیکو دا پرېکړه او بې باوري دوام وکړي او د هغه متل په اساس چې وایي : (اوبه په ډانګ نه بیلیږي) خامخا به دغه ولسونه ډېر ژر په خپلو کې نېږې تودې اړیکې سره جوړې کړي او دې خبرې ته تېره ورځ په امریکا کې د ازبکستان سفیر ښاغلي صفایوف هم اشاره کړې وه رښتیا هم که دغه ولسونه په خپل یوه پېړۍ پخواني تاریخ ته سرسري نظر واچوي نو ډېره ښه به ورته په ډاګه شي چې افغانانو او د منځنۍ اسیا نورو ولسونو تر پېړیو ښې پېړیو ژورې اړیکې سره درلودلې او ګډ ژوند یې کړی دی او معلومه خبره ده چې دغه ژور تاریخي او ثقافتي مشترکات د همدغو روسانو او د هغوی د کمونیستي انقلاب په اثر سخت اغیزمن او بلکې شلیدلي دي نو اوس چې له نېکه مرغه د منځنۍ آسیا ولسونه هم د خپلواکۍ څښتنان او ځان ته خپل حکومتونه لري ښایي په دې هکله له غور او ځیرنې کار واخلي او د روسانو په شومو اهدافو وپوهیږي تر کومه ځایه چې په افغانستان پورې اړه لري، اسلامي امارت په لس ګونو ځله دا اعلان کړی چې موږ به هیڅکله هم د نورو په کورنیو چارو کې لاس وهنه ونه کړو موږ په خپل هیواد کې ډېرې اقتصادي ستونزې لرو او نه غواړو چې له ګاونډیانو سره مو اړیکې خرابې او له نویو کشالو سره مخ شو ، موږ د متقابل درناوي په اساس له ګاونډیو او ټولو نړۍ والو سره د ورورۍ او دوستۍ غوښتونکي یو په دې هکله د مغرضو هیوادوغولوونکې اندیښنې بیخي بې ځایه او له واقعیتونو لرې دي نو د سیمې او ګاونډیو هیوادو ته په کار ده چې زموږ په وړاندې مثبت دریځ غوره او د ښو اړیکو په جوړولو سره د سیمې د اقتصادي ښېرازۍ لپاره هلې ځلې وکړي موږ یو ځل بیا هم ټولو ته په کلکه ډاډ ورکوو چې موږ په خپل هیواد او سیمه کې د سولې او ثبات د ټینګښت نه پرته بل څه نه غواړو.

دعدلیی وزارت خپرونه ۷

عدل او انصاف د اسلام په رڼا کې

د (اتاسي) دشپږم جلد په (٤۸) مخ کې بې دعدل یوه بې مثاله وا قعه بیان کړېده : وایي چې یوه ورځ دحضرت علي (ک) څخه دمسلمانانو دوېم خلیفه حضرت عمر (رض) ته یوه یهودي شکایت وکړ کله چې دوی دواړه عدالت ته حاضر شول حضرت علي (ک) ته یې وویل : اي «ابالحسن »و دریږه دخپل مدعي په مخ کې کښېنه ، ده هم سمدستي داکار وکړ ،خو په مخ باندې یې دنا خوښې نښې معلومې شوې . کله چې مسئله ختمه شوه ، حضرت عمر (رض) ترې پوښتنه وکړه تایده ګڼله چې دخپل دښمن په مخ کې کښېنې که څرنګه ؟حضرت علي (ک) ورته وفرمایل: نه زه پدې خپه شوم چې تا زموږ په منځ کې دمساوات اوبرابري لحاظ ونکړ ځکه تا ماته «ابالحسن »وویل چې دلته اسم کنیه په تعظیم دلالت کوي .

دیورتنۍ واقعې څخه داڅرګندیږي چې صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین دعدالت څومره پیرو او غوښتونکي وچې حتی دځان په خلاف یې هم دعدل او انصاف غوښتنه کوله او بل دا چې دا فرق نه و چې فلانی څوک دي ،لوی دی که کوچنی دااسلامي امارت مسؤلینو ته ډېر لوی درس دي چې باید په خپلو ورسپارل شویو دندوکې عدل او انصاف وکړي . ولې په ډېرتاسف سره باید وواېو که د اوسني وخت حالاتوته متوجه شو په کومه محکمه کې چې خداي ترسه او منصف قاضي دیوچا پر خلاف فیصله وکړي بیا درشوت اوطرفداري الزامونه پرې لګیږي .حال دا چې دمسلمان لپاره دفیصلي وروسته شکایت کول یکارندي اوکومي فیصلي چې قاضیان صاحبان یې کوي هغه یې نه ځمیري دقیامت په ورځ به بیا دالله (ج) دحساب کولو په وخت تر څېړنې او تحقق لاندې نیول کیږي .

پدې عادله ورځ به دهیچا حق په هیڅ قسم نشي ضایع .هر څوک به یخپل جرت او فکر کې غرق وي فقط دخپلې عمل په انتظار به وي . عادل قاضي ته به مکافات ورکول ای شي اوظالم قاضي به مجازات او په ویروونکو عذابونو اخته کړای شي .

همدا راز د(شفا الملوک) په (۸۰)مخ کې دیوه عادل پاچا د واکمنۍ حکایت داسې بیانوي :

ملک شاه (جلال الدوله)دالپ ارسلان زوی چې په (سلطان عادل)باندې یې شهرت درلود او ډېر ښه عدل به یې کاوه ، یو وخت ده ته دوه نفره چې ظلم ورسره شوی وو راغلل او پاچاته یې دظلم شکایت وکړ پاچاسمدستي پدې دوونفروامر وکړچې ماله دواړو لاسونو څخه ونیسي اوخپل وزیر ته یې بوځي دغودواړونفرو دشره له وچې اوپدې خاطر چې دادمقه او پاچاهي په شان کې یې ادبي ده . معذرت وغوښت ان نردې چې پاچادوي مجبور کړل ، نوځکه مظلومانو نوموړي له لاسونوڼیو اوخپل وزیر (نظام الملک) ته یې ور وست ، کله چې وزیر ددې حالت څخه خبر شو پښېمانه دپاچاحضورته راغي اوپاچاته یې وویل دا ولې ؟ پاچاوزیر ته په ځواب کې وویل: همدا ته هغه څوک یې چې زه دې دغه کار ته مجبورکړم ،داځکه چې ته ددې لپاره وزیر ټاکلی یې چې ظلم دفع کړې نو کله چې تاداکار ونکړای شواي نوهمدا دواړه یې مې د اوس په شان دقیامت په ورځ ټینګ ونیسي او دالله (ج) حضورته به مې کش کړي .

دیورتني حکایت څخه دا معلومیږي چې هر مسؤول باید خپلو ماتحتونه په هر حالت کې چې وي ،متوجه شي او اړوند کارونه یې په وخت اوزمان تر خپل نظر او مکمل غور لاندې راولي ، پرې یې نږدي چې څه ددوی خوښه وي همغسې دخپل مرضۍ اوخوښي حکومت او فیصلې وکړي داځکه چې که یو مسؤل فقط دخپل نوم او نشان او ددې لپاره چې خلک یې وپیژني او ووېل شي چې فلانی وزیردی یا قاضي او یا هم دوظیفه چې لرې اودخپلو کښېنو مامورینو او رعیت دحال او احوال څخه خبر نه وي ،په حقیقت کې یې دخپل ځان سره شپه سبا کړېده .

نوځکه یکاره ده چې هر مسؤل که لوی مسؤلیت ولري یا کوچنی ، دالله(ج)په نزد مسؤل دي الله (ج)به ده ته دعدل په بدل کې برخې ورکړي ،دمشرانو او دخلکو دعا ورپه ګرځي ، مګر دظلم په بدل کې به یې الله(ج)هم پدې دنیا اوهم په اخرت کې ذلیل او دتباهي سره مخامخ کړي ، راځئ چې ددغه مناسب فرصت نه په استفادې سره خپلو خپلو دندو او مسؤلیتونو ته خاصه توجه وکړو او هغه څه یکاره واچوو چې په هغوي کې دالله(ج)اودهغه دپیغمبر(ص) رضا نغښتي وي ،پداسې صورت کې به موږ د دنیا او هم داخرت کامیابي سرخروي را په برخه شي .

هغه ضروري مسئلي چې خلک ورځنه غافل دي

۱-اکثره حکومتي مسؤلین چې کوم ونه یې یوځای او وظیفه یې بل ځای وي او تر منځ یې دسفر موده وي کله چې دکور څخه دخپلې رسمي وظیفې وطن ته راشي او تر یخلس ورځو کمه موده یې قصد کړې وي نویا دوی دعادي مسافر په شان دوه رکعته لمونځ کوي . مګر مسئله داسې نه ده دفقهي شریفي فتاوا وې خصوصاً الفقه الاسلامي وادلته کې وایي چې داراز مسافر که څه هم یوه ورځ تیروي لا به هم لمونځ پوره کوي مسافر نه بلل کیږي ترڅو یې خپل ساماَن بل نه وي انتقال کړی همدا راز چې کور یې بل ځای وي دخو ورځو لپاره خپلې خېرې ته راشي اویا تاجرچې کور یې بل ځای مثلاً په کندهار کې وي په کابل یا هرات کې کوټه لري دلرو ورځو لپاره خپلې کوټې ته راشي داهم په دې حکم کې شامل دي ،چې اکثره خلک ددې حکم څخه غافل دي .

۲-په افغانستان کې دابو غټ ناروا رواج دی چې دښځو میراث نه ورکول کیږي حتی هغه نفوی داره خلک لا یوه داسې حیله جوړوي چې خوږ یې ګواکې حق ورسلي خوددې مسئلې څخه غافل دي چې کرنه ښه چې ډېرې ناسره په سبب شوي وي هغه ښه په شریعت کې اعتبار نلري لهذا دخوښتنو اکثره دشره او پیغور په خاطروې باید داسې ښښه څوک ونه غواړي خوماسفانه اکثره خلک ددې مسئلې څخه ډېر غافل دي .

عبدالوحید ستانکزي

ملیت گرایی از دیدگاه اسلام

نشنلیزم هدفي جزاین نداردکه افرادطائفه خاصي بمنظورتحقق منافع مشترك شان كار كنند وبرا ي حصول اغراض وخواسته هاي اجتماعي شان درصف واحدي شامل شوند.بنا برين اساسات وعناصريكه نشنليزم برآن استوارميگرددعبـ‌ـت انداز:-

۱-نژاد
۲- محل تولد ووطن
۳-زبان
٤- اقتصاد
٥-سیاست

نظریه كامل وهمه گیر اسلام درین مورد دربین یك انسان وانسان دیگرهیچگونه فرق مادي وحسي راقبول نكرده بلكه براي كافه بشریت میگوید كه شماهمه ازیك اصل هستید چنانچه خداوند(ج)میفرماید :ترجمه :- اي مرد مان بترسید از پروردگارخویش كه بیافرید شماراازیك كس وافرید ازان یك كس زن اوراومنتشرساخت ازین دوكس مردان وزنان بسیار (سوره نساء - ۱)

پس فرق هاي كه دربین تان ازناحیهٔ محل تولد وجاي سكونت ومكان تدفین وجود دارد ، ارزش اساسي وجوهري ندارددرجاي دیگري میفرمایدترجمه «واوستآنكه پیدا كرد شما را ازیك شخص پس شما را قرار گاهي است وودیعت جایي »

الانعام ۹۸ همچنان قرآن كریم تاكید میكند كه درحقیقت اجناس وقبایل گوناگون تان همه ازیك پدر ویك مادر اند ، خداوند میفرماید : ترجمه «اي مردمان هر اینه افریدیم شمارا ازیك مردویك زن وساختیم شما را طوائف وقبیله ها تابایكدیگرشناسایي حاصل كنید ، هرآینه گرامي ترین شما نزد خداوند پرهیزگارترین شما ست » الحجرات -۱۲ .

یعني این اختلاف موجود دربین ملت ها وقبایل براي آن است كه با یكدیگرتعارف وشناسایي پیداكنید .

نه براي آنكه علیه همدیگربغض ودشمني پیشه كنید . وطریق تفاخر بپیمائید وبه قتل وكشتار همدیگر كمربندید. همه ازیك اصل ویك پدر ومادر هستید . آري اینها فرق هاي حقیقي نیستند واگرفرق دربین تان وجود دا،تنهابراساس

تقوي، اخلاق واعمال است . این تفرقه ها دربین طائفه ها واختلاف دربین جماعت هاي تان كه خود ایجاد كرده اید جز عذابي از جانب الله تعالي نیست كه آنرا برشمانازل كرده است تامزه تلخ عداوت وبغضي راكه دربین تان وجود دارد بچشید ، درین مورد خداوند متعال(ج) مي فرماید :ترجمه -«وبگو اوست توانا برآنكه فرستد برشما عذاب ازبالا ي شمایازیرپاي شما وفراگیرد شماراگروه وبچشاند بعض شمارا جنگ بعض یعني افواج متعدد د پیداشود وبایكدیگر جنگ كنند» الانعام - ٦٥ .

اسلام این فرقه گرایي وحزب پرستي وتقسیم مردم به گروه هاي مختلف را ازجمله جرایمي میداند كه فرعون بخاطرارتكاب آن مستحق لعنت وعذاب دردناك گردید . ترجمه - «هرآینه فرعون تكبركرد درزمین وساخت اهل آنراگروه گروه » القصص ٤ .

این ایه كریمه به جرم تاریخي فرعون اشاره دارد زیرا وي امتیازات گروهي را بین مردم مصر برانگیخت وایشان را به قبطي وغیرقبطي تقسیم نمود وبایك طائفه معامله یي كرد كه با ان دیگري نكرد .

اگرقرانكریم را از آغازتا انجام بخوانید ،درهیچ جاي آن كلمه نخواهیدیافت كه نژاد پرستي را اجازه بدهد. زیرا قرآنكریم نوع بشري رامخاطب قرارمیدهد وقاطبه ملت را بسوي خیر وسعادت .

فلاح ورستگاري فرا میخواند ودعوت خویش رابه ملتي باقاطعه یي از زمین تخصیص نمي دهد .

راځئ چی کوکنار نه کرو

« فاروق »

کوکنارکه څه هم دنړی په ډیرو هیوادوکی کرل کیږی خودومره بی څوک نه یادوی لکه افغانستان ،چی امریکا او نور مغرض هیوادونه شپه ورځ په راډیوگانو اومطبوعاتو کی پرله پسی تکراروی او له دغی موضوع نه دځانگړواهدافو لپاره کاراخلی .په هرصورت دامریکا لپاره نه بلکی دمعقولیت اواستدلال په حساب هم اوس ددی وخت رارسیدلی چی افغانان

نورپه دی هکله خپل دریغ بدل کړی. داځکه چی که شل کاله مخکی پرهیوادباندی دروسی یرغل خبره وه اونورټول موضوعات بی اغیزمن کړی و، اویا د روسانوله وتلو وروسته دکورنی اړودوړکیسه وه نوداخو ټول اوس دخدای(ج)فضل دی په ختمیدو دی اوپه هیواد کی یوه مسئوله اداره منځ ته راغلی چی ددامی لویوڼږیوالوغوښتنوپه هکله بایدمشبت دریغ خپل کړی . بل داچی دلته اسلامی امارت هم په گرده نړی کی دیوه سوچه اسلامی نظام ناره پورته کړی نو په دی اساس اوس بالکل دایوه مهمه فریضه ده چی نورله دی پیغوره داملت وژغورل شی .له نیکه مرغه اسلامی امارت دکوکناروډشپږبندیز په هکله په غوڅ ډول خپل دریغ اعلان کړ ، چی دابو پرځای گام و ، خوځرنگه چی دغه موضوع له یوی خوا ډیره پراخه اودهیواد اقتصادی ستونزوته په کتو سره ډیره پیچلتیا لری نوپه کارده چی دهیواد ټولی پرگنی اوبیلابیلی ډلی ددغی ناولی پدیدی پر خلاف یوهر اړخیز ملی کمپاین شروع کړی . دامارت دټولوچارواکودامسئولیت چی دنشه یی توکو په خطر اوضررهیواد وال پوه اودی ته بی وهځوی چی نور له دغی گناه توبه وباسی . دوی دی دټولنی له مخورو کسانو سره په دی هکله اړیکی ټینگی کړی اوپر کروندگرودی زور راوړی چی دکوکنارو کرنه بی خپلو هیوادوالواوټولی نړی ته خورا زیات جنجالونه جوړ وی.دکوکنارو دبندولو لپاره یوڅومهم دلایل دادی :

۱- نن سبا په لویدیځ کی اسلام ترټولو زیات خپریدونکی دین دی نوځکه دیهودیت اونصرانیت مشران هڅه کوی چی ددغه خوځښت مخه ونیسی او په دی اړه په لومړی درجه همدغه دمخدراتوپیغور ورکوی چی وگوری اسلامی هیوادونه دبشرلپاره پراخی همدغه ډالی لری اوبس .نوځرنگه چی زمونږ دکوکنارو له لاسه داسلام په سپیځلی لمن داډول تور داغ لگیږی ،اوس به پر مونږ فرض نه وی چی له دی کاره لاس واخلو؟

۲- داهم لازمه ده چی په ټوله نړی کی دنشی په مردار عادت اخته کسان اودهغوی بدژوند ،دکورنی ، پلارمور ، ښځواوماشومانو پریشانی اودهغوی په اوړو دغه دروند پیټی لږ په نظرکی ونیسو چی دی خطرناک یوټی څومره وگړی په غمو او اندیښنو کړولی اوځورولی دی . اوکه فرضا د بل چاځه غم نه راځی نو دخپلو افغانانو په هکله خو لږ سوچ په کار دی چی همدا اوس په هیواد کی دننه اودهجرت په کمپونو کی یو زیات شمیر اخته ځوانان سربداله اوخواروزار گرځی . اوکه خامخا دالړی همداسی نوره وغځیږی جنابی دومره ټولنیز مشکلات راته جوړاوله دومره اخلاقی فسادونوسره مومخامخ کړی چی بیا به یی په هیڅ ډول چاره نه شو کولای .

۳-په اقتصادی لحاظ هم ددی بوټی کرنه نور ددی ملت په گټه نه ده ځکه یو خو اوس زمونږ غله کمه ده اوباید غنمو اونوروخوراکی موادو ته وده ورکړو اوبل داچی ددغو نشه یی توکو گټه اوپیسی هم دگوتوپه شمیر یوڅو محدودوجیبونوته لوییږی چی هغه هم زیاتره له هیواده بهر په کارلویږی اودلته یی چاته هیڅ گټه نه رسیږی .

٤- له سیاسی پلوه هم ددی مضریوټی له منځه وړل په کاردی ، ځکه اوس دهیواد په سیاسی گوښیتوب کی مهمه ونډه دمخدراتو ده اوداځکه چی که څه هم امریکا خوبیا هم نه رضا کیږی مگرډیرنور داسی هیوادونه شته چی که دا اندیښنه یی نه وی ، جنابی له اسلامی امارت سره داړیکو په جوړولو کی نه امریکی ته څه غوږونیسی اونه بله کومه ستونزه ولری اوانشاء الله ډیرژربه موهیواد دنورو ترڅنگ په نړیوال سیاسی ډگرکی دستر رول څښتن شی.

۵- له دینی پلوه خو هرمسلمان مکلف دی چی ځان ته حلاله روزی پیداکړی اوحراموته تیری ونه کړی ، که څه هم ډیره مالی گټه یی پکی لیدلی وی .نو داچی دعلماو له خوا په دی هکله فتوی صادره شوی اودکوکناروکرل بی دحرامی نشی دمنبع په توگه حرام بللی نو په دی باره کسی به نورکوم عذر دمنلو وړوی ؟

اطفال امروز سرمایه بي بدیل ...

ومطالعه خسارات وضایعات گذشته ، پرورش داده شود و وسعت مسئولیت فرداي آنها تفهیم گردد تابعنوان جوانان ومردان برومند جامعه فردا ،گذشته هاي از دست رفته را جبران نمایند.

خوشبختانه چنین طرزتلقي سالم ،چه دربرخي فامیل ها ویا دربرخي موسسات وابسته به اطفال ، تاحدودي بمشاهده میرسد از جمله محترمه دکتورس رحیمه «رحیم»معالج ومربي سرویس اطفال شفاخانه حوزوي هرات درمصاحبه باخبرنگارما روي موضوع روشني انداخته گفتند :

سرویس اطفال که شامل خواهران دکتورس، نرس وخدمه میباشد، همیشه روي رشد وتقویت عواطف بشري اطفال ، از طریق طرز برخوردبسیار حساس ودوستانه ،توأم بامهر وشفقت ، تشویق وترغیب اطفال واظهارسخنان محبت آمیز با آنها ، تأکید ورزیده ایم وخواسته ایم تاموجودي مانند یك مادر مهربان ویا حامي ومربي صمیمي را، براي طفل مریض تجسم بخشیم ،زیرا روح اطفال نهایت ظریف وحساس بوده ویا روش هاي عاطفي نه تنهاجسم وي معالجه وترمیم خواهد گردید، بلکه روحا تقویت گردیده واحساس مقام وشخصیت میکند .

که رعایت این مسایل بویژه درهنگام مریضي اطفال ،بسیار حایز اهمیت وقابل توجه فراوان است .

محترمه دکتورس رحیمه جان نتایج چنین طرز رفتار با اطفال مریض را بسیار مفید وموثر خواند وگفت: اطفالیکه پس از تداوي مرخص میشوند ، همواره بروحیه شادوچهره گشاده باما خداحافظي مینمایند وازاینکه درمورد خواهشات ومشکلات آنها بطور جدي رسیدگي بعمل آمده وبصورت صحیح ومفصل مورد معاینه ومعالجه قرار گرفته اند ،بسیار راضي وخوشحال به نظر میرسند .

گفته میتوانم که روزانه ۲۰-۲۵ طفل مریض درسرویس اطفال مراجعه مینمایند که به محض ورود تدابیر لازم رویدست گرفته میشود ، اگرمریض،تکلیف جدي نداشته باشد پس از مراقبت هاي لازم ابتدایي باتجویز ادویه لازم مرخص میگردد، درغیر آن بستر شده وبه تداوي دوامدار آن الي صحت یابي ،پرداخته میشود .

اکثراطفال که بخصوص درفصل خزان مراجعه میکنند،از امراض قي اسهال ، سینه بغل ،تسممات وسرماخوردگي وقي محرقه شکایت دارند. از جمله حدود ۲۰-۲۵طفل ، ۱٤-۱۵ شان داخل بستر میگردند وازخدمات رایگان صحي ، ادویه ،اعاشه وسایر امکانات برخوردار میشوند.

محترمه رحیمه «رحیم» درمورد مشکلات سرویس اطفال افزودند:اکثرمراجعین واطفال مریض فقیروبي بضاعت اند وتوانایي خرید ادویه از بازار را ندارند واین مشکل جدي به نسبت عدم بودیجه کافي ازطرف ریاست هم تامین شده نمتواند ،لیکن دراین اواخر موسسه طبیبان بدون مرز ، مسئولیت تهیه رایگان سرویس اطفال شفاخانه حوزوي رابعهده گرفته که امید میرودتایکماه دیگراین معضله بپایان برسد .

دراخیرمحترمه رحیمه جان علاوه کردندکه همه بزرگسالان مکلفیت دارند درتمام حالات واوقات ازاطفال مراقبت جدي وموثربعمل آورند بویژه دربخش وقایه اهمیت فراوان قایل شوند .

حفظ الصحه انها را جدا رعایت کنند ، دوره هاي واکسیناسیون شانراتکمیل نمایند ، اطفال شانرا باشیر مادرتغذیه نمایند، وقطعاازرفتار خشونت آمیز ،تهدید ،لت وکوب وتحقیر اطفال شان،بپرهیزند.

«عطامحمد فریادي»

عبدالمالك رئیس شفاخانه صلیب سرخ کارته سه چنین گفتند: شفاخانه کارته سه دراکتوبر سال ۱۹۸۸ م ازطرف کمیته بین المللي صلیب سرخ به منظورکمك به معیوبین ومجروحین جنگ افتتاح وتأسیس گردید . درابتداء ظرفیت آن ۵۰ بستر بود وفعلا ظرفیت ۳۰۰ بستر را دارا میباشد. همین اکنون دراین شفاخانه به تعداد ۲۸۰ نفر پرسونل اعم از دوکتوران به سویه تخصص ،نرسها وپرسونل خدماتي ایفاي وظیفه مینماید.

نامبرده افزودند: شفاخانه صلیب سرخ کارته سه داراي بخش هاي داخله وجراحي بوده که دربخش جراحي آن مریضان جراحي عمومي ، یورولوژي ،اورتوپیدي، تراماتولوژي ،جراحي اوعیه، صدري وغیره تحت تداوي قرارگرفته والبته این مریضان شامل مردان ،زنان واطفال میباشد.

درشفاخانه کارته سه دوکتوران داخلي ایفاي وظیفه میدارند دربخش جراحي به تعداد ۱۵ داکتر ازجمله ۵ نفر متخصص جراحي و۱۰ نفر به سویه دوکتور طب ایفاي وظیفه مینماید، ودربخش داخله به تعداد ۵ داکتر ازجمله ۲ متخصص و ۳ داکترطب موجود اند.

بخش جراحي شفاخانه ازنظرادویه، سامان الات طبي ومعاش کمکي از طرف کمیته صلیب سرخ ص ٤

داصحابو دژوند پلوشي

مؤلف : دکتور عبدالرحمن رأفت باشا - مترجم : بشار

۲۹

سلمان الفارسی

زمونږ دغه کیسه دهغه چاپه باب ده چی هغه په حق اوحقیقت پسی هلی ځلی کوونکی اودالله(ج) پلټونکی و.

هغه چی دسلمان الفارسی (رضی الله عنه وارضاه) ده هغه همده ته پرېږدوچی دی یی پخپله بیان کړی ځکه دی دکیسی په باب دژورشعور ،قوی حس او دریښتینی روایت خاونددی.

سلمان (رض) وایی:زه داصفهان دخلکو څخه یوفارسی ځوان ، اوله یوی قریی څخه وم چی هغه په «جیّان» سره یادیدله .زماپلار دقریی مشر اودقریی دټولوخلکو په نسبت شتمن او دلوړ مقام خاوندۆ ، اوزه ورته له هرڅه څخه ډیر گران وم. اوپرماباندی دهغه مینه ورځ په ورځ زیاتیدله تردی چی زه یی دوړی له کبله په کورکی بندی کړم . ماپه مجوسیت کی ډیرزیارو ویست تردی چی داورچی دهغه عبادت مو کاوه خازن مقرر شوم اودهغه دبلولو کار زما په غاړه شواوهغه می شپه او ورځ بل ساته.زماپلار دکښت ډیره ځمکه درلوده، اودغی ځمکی مونږته ډیره غله کوله، اوهغه ددغی ځمکی ډیره پاملرنه کوله، او ورڅخه یی ډیره غله ترلاسه کوله.

بیاڅه وخت هغه ته ضرورت پیداشو ،اوقریی ته دتلوڅخه پاتی شواوماته یی وویل: ای زوی گوتیه!ځنگه چی ته وینی زه ځمکی ته نشم تللی نوته ورشه اوزماپرځای دځمکی کاراوسرشته ته په غاړه واخله. زه خپلی ځمکی ته روان شوم ،اوپه لاره کی دیوی فاصلی څخه وروسته دنصرانیانوپریوی کلیسا پیښ شوم ،اوهلته دلمونځ کونکوآوازونه زما ترغوږوشول اوزما پام یی ور وگرځاوه.

هو! داچی پلارپه کور کی له خلکوڅخه گوښه ساتلم نوماته دنصرانیانو او نورو ادیانو دخاوندانوموضوع معلومه نه وه ،اوکله چی مادنصرانیانو اوازونه واوریدل نوزه هغوته ورغلم څوهغوی له نژدی ووینم اوله عملونو څخه یی ځان خبر کړم.

کله چی ماهغوی پرلمانځه ولیدل نودهغوی لمونځ زما خوښ شو ،اودهغوی دډین سره زماعلاقه پیداشوه او ومی ویل : په الله سوگند ،دغه دین له هغه دین څخه چی مونږ یی لرو غوره دی. پرالله سوگند ،زه ترهغه هلته وم څولمرپریوت ،اوخپلی ځمکی ته ولاړنشوم. بیا ماله هغوی څخه پوښتنه وکړه:ددی دین اصلی مرکز چیرته دی ؟هغوی وویل:په شام کی .

کله چی شپه شوه ،خپل کورته ورغلم . پلارله ماڅخه دکارپوښتنه وکړه. ماورته وویل: ای پلاره! زه په داسی خلکوپیښ شوم چی هغوی په خپلی کلیساکی لمونځونه کول اودهغوی دغه کار زماخوښ شو ،نوهماغه ډ چی ترماښامه دهغوی سره پاتی شوم .

پلارزماله دغه عمل څخه په ویره کی شو اوراته یی وویل:ای زوی گوتیه!په هغه دین کی څه خیرنشته ،ستااوزمادین له هغه څخه ښه دی. ماوویل :هیڅکله داسی نده ،په الله سوگند ، دهغوی دین زمونږ له دین څخه غوره دی. پلار زما له خپرو څخه ویره وکړه ، اوله دی څخه په دی سوچ کی شو نه چی له خپل دین څخه لاس واخلی نوزه یی په کورکی بندی کړم ، اوزما په پښوکی یی زولنی واچولی .بیا کله چی می وخت وموند نوما نصرانیانو ته خبر ورکړ او هغوی ته می وویل :که څه وخت قافله راغله ، اوبیا دغه قافله شام ته تلونکی وه نو ماته په دغه باب خبر راکړئ .ډیر وخت لانه و تیر شوی چی یوه قافله پیداشوه اودکلیسا خلکو ورڅخه خبرکړم بیا ما په یوچل سره خپلی زولنی خلاصی کړی اودقافلی سره په پټه دشام په لور روان شوم کله چی قافله شام ته ورسیدله نوما دقافلی خلکوته وویل:

ددغه دین له پیروانو څخه څوک غوره دی؟

هغوی وویل: دکلیساخاوند اسقف .بیا زه اسقف ته ورغلم اوهغه ته می وویل :

زمانصرانیت خوښ شوی دی ، او زه غوارم چی تا سره و اوسم ، ستا خدمت وکړم ، له تا څخه زده کړه وکړم او تاسره لمونځ وکړم . هغه وویل :راننوزه.بیا زه دننه ورغلم اودهغه په خدمت کی شوم .بیا ډیروخت لا نه و تیر شوی چی هغه ماته یوبد شخص څرگند شواوهغه داسی چی هغه خپلوپیروانو ته دصدقی دورکولوبلنه ورکوله ، اوهغوی بی دصدقی ثواب ته هڅول ، اوبیا چی به هغوی څه صدقه ورکړه څوهغه دالله تعالی په لاره کی ولگول شی نو هغه به دصدقی مال ځان ته ساته. او فقیرانو اومسکینانو ته به یی نه ورکاوه تردی چی په دغه توگه یی اووه چاټی سره زر ټول کړل .

ماچی هغه په دغه کارولید نوهغه راته ډیربدبنکاره شو ، بیا ډیر وخت لا نه و تیر چی هغه مړشو ، اونصرانیان دهغه دخښولو پاره راغونډشول نوماهغوی ته وویل :

ستاسی ملگری ډیر بدسړی ؤ اوهغه داچی هغه تاسی دصدقی ورکولو ته هڅولی ،اوبیا چی تاسی به هغه ته صدقه ورکړه نو هغه به دصدقی مال مسکینانو ته نه ورکاوه .

هغوی وویل :تاڅنگه وپیژانده ؟

ماوویل :زه تاسی ته دهغه خزانه ښیم.

هغوی وویل :ښه ده ،مونږ ته یی وښیه .

ماهغوی ته دخزانی ځای وښود ،اوهغوی دسرواوسپینوزرواووه چاټی راوویستلی هغوی چی ورته وکتل نو ویی ویل :په الله سوگندهغه به هیڅ خښ نکړو.

باقی لری

در نتيجه ۱۰ سال عمليات ماين پاكي ...

مليون ماين قبلاً سروي شده در كشور فقط ۹ مليون و هفتصد و هشتاد هزار آن دست نا خورده باقي مانده است.

محترم مولوي نورالهدي «رحمت» رئيس آمادگي مبارزه با حوادث رياست الوزراء ا.ا.ا ضمن تاييد اين مطلب ادعا نمود : گزارشات ارائه شده موسسات ماين پاكي ملل متحد (از سال ۱۹۹۰تا جولاي ۲۰۰۰ ميلادي) به اين اداره مبين اين حقيقت است كه طي همين ۱۰ سال فعاليت صرف ۲ فيصد ماين از افغانستان پاكسازي شده و اگر به همين شدت پروسه عمليات پاكسازي ماين در افغانستان تداوم داشته باشد گفته ميتوانيم كه ٤۰۰ سال ديگر بكار است تا افغانستان بطور كامل از وجود ماين ها پاكسازي گردد.

با اين همه تعلل و بطالت شگفتي صرف دربنجاست كه موسسات ماين پاكي، غير مسوولانه در آيينه مطبوعات وسيعاً ادعا ميدارند گويا اينكه طي ۱۰ سال فعاليت خويش در افغانستان توانسته اند ۵۰ فيصد ساحات تحت ماين را پاكسازي نمايند، در حاليكه آمار محفوظ كمپيوتر خود شان نشان ميدهد كه طي اين دراز مدت آن چنانيكه لازم و ممكن بود فعاليت صورت نگرفته است .

مهربان

۲۲ تن از حافظان ...

ابوالفضل معين الدين ، محترم مولوي غلام حيدر رئيس محكمه نظامي ، محترم مولوي سيف الدين ، محترم مولوي نظر محمد و محترم فيض محمد بالنوبه در رابطه به فراگيري علم و دانش از ديدگاه دين مبين اسلام و فضيلت حفظ قرآن عظيم الشان صحبت نموده مسووليت هاي بعدي حافظان را در برابر وطن و مردم برجسته ساختند.

در اخير بيست و دو تن از حافظان مدرسه متذكره توسط عده از علماي كرام دستار بندي شدند.

فيصله قوماندانان ...

نخواهند فرستاد، قوماندانان از فيصله قاطع شان مسعود را آگاه ساخته اند. اين درحاليست كه روز گذشته خبر اعزام قواي سه هزار نفري از شمالي به صوب تخار جهت باز پس گيري تالقان منتشر شده بود فيصله قوماندانان اين خبر را ترديد ميكند.

د باميانو ولايت ...

ګډون د اسلامی اردو له مجاهدينو سره يو ځای شو

د اسلامی اردو د مجاهدينو له ليكو سره د مخالفينو د قوماندانانو او افرادو د پيوستون په لړ کی پرون قوماندان فرهمند د خپلو شلو تنو وسله والو افرادو په ګډون د باميانو ولايت د لعل او سرجنګل ولسوالی په مربوطاتو کی په دغی ولسوالی کی د اسلامی اردو له ميشتو پوځونو سره يو ځای شو .

دغه قوماندان ته د باميانو ولايت نظامی مسؤول محترم ملا عبدالستار حقانی د لعل او سر جنګل ولسوال محترم سيد نادر بحر او د پنجاب ولسوال محترم سيد امين عارف هر کلی ووايه دغه قوماندان د اسلامی اردو له مجاهدينو سره له پيوستون وروسته تياری ځرګند کړ چی د خپل ژوندانه تر وروستی سلګی پوری د اسلامی امارت دفاع کوی.

د امر بالمعروف ...

چرګانو په جنګولو بوخت وه پرون د امر باالمعروف او نهی عن المنکر د موظفينو له خوا ونيول شول.

په هيواد کی د اصلاحی فعاليتونو او د مفسداتو د بيخی لمنځه وړلو په دوام د امر باالمعروف او نهی عن المنکر وزارت موظفين چی شپه او ورځ د معروف د اقامه کولو او د منکراتو د مخنيوی په لاره کی هڅه او هاند کوی پرون د کابل ښار د شوربازار په سيمه کی شير آغا د محمد يعقوب په کور کی څلور شپيته تنه جوار ګر چی په عين حال کی يی د سپيانو مږزانو او د چرګانو د جنګولو په ناروا عمل لاس پوری کاوه لاس په لاس ونيول د دغو ناروا عملونو مرتکبين له ځنډ پرته د قانون منګولو ته وسپارل شول.

ازبکستان پدې غور ...

ليږلی و چی د طالبانو له سفير سره خبری ورکړی.

د ازبکستان جمهور-رئيس اسلام کريموف دا خبری په بشکيک کی د شپږو هيوادو د ټولنيزی دفاعی لوزنامی د اعلان څخه وروسته کړی دی چی په سيمه کی د ازبکستان دځانګړی سياست ځرګندونه کوی او دا چی

ازبکستان به خامخا نور موجود واقعيتونه په نظر کی نيسی او په هوښيار تيا او ځيرکتيا به د خپل هيواد او سيمی د اقتصادی ښيرازی لپاره له افغانستان سره د راکړی ورکړی او دوستانه اړيکو پالنه کوی.

فرمان مقام محترم...

ميگردد تمام شما مشتركاً متوجه جلوگيري اعمال منكر شويد و به هر قيمتي كه ميشود از اين اعمال نادرست جلوگيري نماييد تا گردن ما خلاص و جهاد ما جهاد كما حقه گردد.

والسلام

خادم اسلام امير المومنين

ملا محمد عمر «مجاهد»

محترم آيت الله تقدسي ...

بن ابي طالب«رض» قبل از خطبه نماز جمعه در مدرسه مدينة العلم قلعه شاده كابل گفتند : آنانيكه مقام حضرت علي كرم الله وجهه را بالاتر از امامت ميپندارند در زمره مشركين و كفار تلقي ميگردند و كسانيكه نسبت به شخصيت حضرت علي«رض» بغض و عداوت در دل دارند به يقين كه بهره» از اسلام ندارند.

وي ضمن برجسته ساختن عدالت اجتماعي حضرت علي «رض» در بين مسلمين اضافه داشتند : روزي يكتن از ياران بنام هارون نزد حضرت علي «رض» در منزلش آمد و وي را در حالي يافت كه سرما خورده بود و لباس به تن داشت كه چندين پينه در روي آن معلوم ميشد گفت : اي خليفه اسلام ! شما را خداوند «ج» از بيت المال مجاز دانسته است كه قدر ضرورت حق برداريد و استفاده كنيد : مگر چرا شماانكار داريد ؟

حضرت علي «رض» فرمود : قسم به پروردگار من كه اين لباس ژوليده و كهنه را از مدينه آورده ام و يك نخ از بيت المال مسلمين با خود ندارم.

درين سخنراني صد ها تن از خواهران و برادران اهل تشيع اشتراك ورزيده بودند.

بخش اكسريز ...

با فعاليت ماشينهای متذكره علاوه از رفع مشكلات مريضان حدود سه هزار و پنجصد دالر امريكايی به شفاخانه متذكره مفاد حاصل گرديده است .

اين شفاخانه طور ۲٤ ساعت در خدمت مريضان قرار داشته و در ششماه اول سال جاری نودو پنج عمليات جراحی صغيره،دو صد و هفتاد عمليات ارتوپيدی،يكصد و بيست و دو عمليات عضوی انجام يافته و نه هزار و يكصد و شصت و شش نفر مجروحين توسط دوكتوران شفخانه متذكره پانسمان و تداوی گرديده اند.

د امريكي متحده ايالاتو جمهور رئيس بل كلنتن :

دعدن په بندري ښار كي ددغه هيواد په جنګي بيړي باندي بريد وغانده

د امريكا د متحده ايالاتو جمهور رئس بل كلنتن د كولی په نامه ددغه هيواد په جنګی بيړی باندی يو سرښندونكی بريد چی د عدن په بندری ښار كی وشو په كلكله وغانده .

د (ډی پی آی) د خبری آژانس د خبر له مخی بل كلنتن ويلی دی چی امريكا متحده ايالات به ددغه بريد عاملين ونيسی او سزا به ورته‌وركړی.

موقف ما تحكيم ...

بخاطر صلح و ثبات و رفع مشكلات و بدبختي ها در كشور به تلاشهاي پيگير مصروف بوده و هيچگاه قصد مداخله در امور ديگران را ندارد.

محترم فيض احمد فيض نطاق وزارت امور خارجه اضافه نمود سران اجلاس بشكيك در صحبت هاي شان پيروزيهاي اخيرا ا.ا.ا را تهديدي براي كشور هاي آسياي ميانه خوانده اند در حاليكه اين حقيقت با گذشت هر روز در سطح ملي و بين المللي قوت حاصل مي نمايد كه پيشرفت هاي ا.ا.ا نه تنها تهديد به كشور هاي ديگري نبوده بلكه صلح و ثبات را در منطقه تقويت بخشيده است .

افغانان با كشور هاي آسياي ميانه روابط عميق تاريخي ، فرهنگي و عقيدتي دارند و به اين ترتيب ا.ا.ا با الهام علايق متذكره ميخواهد با كشور هاي آسياي ميانه روابط نيك و دوستانه داشته باشد .

محترم فيض افزود: تحولات اخير به صراحت نشان ميدهد كه اكنون كشور هاي آسياي ميانه با اين نظر روسها موافق نيستند كه گويا ا.ا.ا به كشور هاي آسياي ميانه تهديدي ميباشد و از تروريزم حمايت ميكند اين چيزي است كه اكنون منحيث واقعيت ها به آن اعتراف ميشود بر خلاف ادعاي روسها با گذشت زمان سياست هاي صلحجويانه ا.ا.ا بسياري از زواياي تاريك ساير مسايل را روشن خواهد ساخت .

محترم فيض احمد فيض با اشاره به دشمني هاي عميق روسها با افغانها علاوه نمود حضور نظامي روسها در منطقه نه تنها براي افغانها بلكه براي تمام كشور هاي آسياي ميانه يك تهديد بالقوه شمرده ميشود.

روسها در اين مورد ا.ا.ا را بهانه ساخته است تا حضور نظامي خويش را در منطقه توجيه و به نفوذ خود در منطقه توسعه بخشد اين در حالي است كه كشور هاي جهان و منطقه به حقانيت ا.ا.ا پي برده و اتهامات ميان خالي روسها را افسانه بيش نمي دانند .

در اخير محترم فيض به پرسشهاي خبرنگاران داخلي و خارجي پاسخ ارائه داشت.

د وارسيدلو رپوټونو او د عينی شاهدانو د ځرګندونو له مخی په چاوديدونكي موادو باربوی بيړی د يمن په بندری ښار عدن كی له دغی امريكايی بيړی سره ټكر وكړ او وچاو ديدله

د امريكا د متحده ايالاتو د دفاع وزارت د چارواكو له

خولی هم د وروستيو وارسيدلو خبرونو له مخی په دی پيښه كی شپږ تنه وژل شوی او كابو

ديرش تنه نور ټپيان شويدی او يوولس تنه امريكا يی سرتيری لا تر اوسه پوری تری تم دی .

شفاخانه صليب سرخ كارته سه داراي ...

بين المللي ومواد غذايي آن ازطرف وزارت صحت عامه امارت اسلامي افغانستان تأمين ميگردد همچنان دربخش داخله تمام ضروريات ازقبيل ادويه ،سامان الات طبي ومواد غذايي ازطرف وزارت صحت عامه ا.ا.ا تأمين ميگردد.

دربخش جراحي روزانه درحدود ٦۰ مريض به OPD مراجعه نموده وتحت تداوي قرار ميگيرند ودر حدود ۲۰-۲۵ مريض داخل بستر وعمليات ميگردند. بايد ذكر نمود كه مريضان جراحي Elective شامل جراحي عمومي،صدري، يورولوژي، اورتوپيدي ، تراماتولوژي ،جراحي اوعيه وجراحي عصبي تحت تداوي قرارگرفته وهم مريضان عاجل جراحي عمومي ،صدري ،يوروا وجراحي جنگ تحت تداوي قرارمي گيرند.

قسميكه قبلا هم اماده خدمت به مردم رنجديده خودبوديم درآينده نيزآماده خدمت بهتروبيشتربراي هموطنان خودبوده درتداوي آنهاكوشش خواهيم نمود.

باپيروزي امارت اسلامي در افغانستان الحمدلله به فضل ومرحمت الهي امنيت وارامي دركشور بازگرديده ازينروزمينه امكانات بهتروبيشتردرهمه ساحات خصوصادرساحه طبي براي مردم مافراهم گرديده است بناءپيام مابه مردم افغانستان اين است كه ماشب وروزدرخدمت شان بوده وآماده خدمت صادقانه ميباشيم مااز تمام جنگ افروزان تمناداريم كه زياده ازاين وطن زيباي مارا درآتش جنگ بيهوده نسوزانند.

ذبيح الله«عزيزي»

د خوست په ولايت...

وروستيو وختو كي ددغه ولايت د كليو د بيا جوړونې او پراختيا له رياست سره د ژورو ځاګانو د كيندلو د دوو دستګاوو مرسته وشوه .

د خوست ولايت د كسروند ګرو سره د مرستی او د وچكالی له پلوه د هغوی د ستونزو او مشكلاتو د كمښت په مقصد په دی وروستيو وختو كی د پكتيا ولايت د كليو د بيا جوړونی او پراختيا د رياست له خوا د خوست ولايت د كليو د بيا جوړونی او پراختيا له رياست سره د ژورو ځاګانو د كيندلو د دستګاوو مرسته شوی ده .

د فرانسوي يهوديانو ...

د يهوديانو دغه عبادت ځای چی د پاريس په شمال ختيځ كی دی ددغه بريد له امله زيانمن شوی دی خو د سر زيان نه دی اوښتی دالمان خبری آژانس د خبر له مخی په پاريس كی د يهوديانو په يوه ښوونځی باندی هم بريد شوی دی خو د دغه بريد له امله د رسيدلو زيانونو او مالی تاوانونو په باب څه ته دی ويل شوی .

د تخار ولايت ...

وركړل او په بيلا بيلو سياسی او نظامی برخو كی يی د افغانستان د اسلامی امارت وروستی ارزښتونه د غونډی برخه والو ته بيان كړل.

وروسته د تخار ولايت مرستيال محترم مولوی سيد شرف الدين او ددغه ولايت د مخابراتو رئيس محترم ملا صبغت الله اخند زاده په وار سره خبری وكړی چی د غونډی د برخه والو له خوا يی تود هركلی وشو.

وروسته د غونډی څو تنو برخه والو د نورو په نمايندګی خبری وكړی او يو ځل بيا يی د افغانستان له اسلامی امارت سره خپل پشپړ ملاتړ اعلام كړ او د تخار په ولايت كی د سوله ييز ژوندانه او د داد من امنيت د تامين له امله يی خوښی ځرګنده كړه .

غونډه د محترم ملا محمد نسيم له خوا ددعايی په لوستلو سره پای ته ورسيده .

ملك	شپږ مياشتني	كلني
د ګوون بيه له هيواد نه بهر		
پاكستان	RS200	RS400
دخليج هيوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امريكا	US$75	US$150

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim "Saqeb"
Editor: Ghulam M. Farooq
Printed by: Emirate's Printing Press